# بانکي حسابونه

## پیل کول



REFUGEE COUNCIL

SUPPORTING AND EMPOWERING REFUGEES

# د دغه لارښود په اړه

دا لارښود د هغو خلکو لپار دی چې په وروستیو کې یې د بریتانیا دکډوالۍ شرائط ترلاسه کړي

**پدې کې لاندیني موارد شامليږي:**

یوه ګام پرګام پروسه او د حساب ترلاسه کولو په اړه معلومات•

- د بانکي حساب د ترلاسه کولو لپاره یو صحیح سند
- د مختلفو بانکي حسابونو تشریح
- د هغو اړینو شرائطو تشریح چې ستاسو د بانکي حسساب دېرى موارد جوړوي
- هغه موارد چې تاسو یې د بانکي حساب تر لاسته راوړلو وروسته باید په پام کې ونیسئ
- د دوکې په اړه معلومات او د هغې سره د مبارزې طریقه

موږ هیله لرو چې دغه معلومات تاسو ته په آسانه توګه د بانکي حساب د ترلاسه کوني او له هغې څخه د استفادې په برخه کې مرسته وکړي.

د لا زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره او یا هم که چیرې تاسو د کوم څه په اړه باوري نا یاست، مهرباني وکړئ د **مرستندویه معلوماتو** پاڼه وګورئ ترڅو د ګډوالو چارو د شورى یا کومي بلې خیریه ټولنې د کوم مسؤل سره خبرې وکړئ

## تعریفات

### (د مالي خدماتو دجبران طرحه) FSCS

د مالي خدماتو د جبران طرحه (FSCS) ستاسو په حساب کې تر £85,000 پورې د پیسو ساتنه کوي. که چیرې ستاسو بانکي یا ودانیزه ټولنه پای ته رسي، د مالي خدماتو د جبران طرحه (FSCS ) به ستاسو غرامت تادیه کوي.

### ډیبیټ کارت

په خپل حساب کې له شته پیسو څخه په استفادې سره د توکو او خدماتو په بدل کې د تادیې په موخه استفاده کیږي. ډېر ډیبیټ کارتونه ،بې اړیکې، دي. دا پدې مانا ده کله چې تاسو تر £30 زیاته تادیه کوئ، تاسو کولای شئ خپل کارت پرته له دې چې ماشین ته یې د ننه کړئ او خپل پین کود داخل کړئ، د کارت په ماشین کې ټپ کړئ.

### پین/PIN (د معرفت شخصي شمېره)

کله چې تاسو خپل ډیبیټ کار ترلاسه کوئ، تاسو به د هغې سره یو ځای یو پین نمبر/ PIN number هم ترلاسه کړئ. دا نمبر د دې لپاره دی چې کله تاسو د تادیاتو په موخه له کارت څخه استفاده کوئ، ستاسو معرفت وکړي چې په رښتیا هم تاسو د دغه کارت خاوند یاست. په یاد ولرئ چې یاد نمبر باید له نورو څه پټ او محفوظ وساتل شي-ستاسو بانک به هېڅکله له تاسو څخه ستاسو د پین په اړه پېښتنه و نه کړي.

### چک

تاسو کولای شئ له چک څخه د تادیاتو د یو ډول په حیث استفاده وکړئ. کله چې تاسو خپل بانکي حساب ته غوښتنه کوئ، نو پدې اړه به له تاسو څخه پوښتنه وشي. په ډېرى ځایونو کې چک د تادیاتو په حیث نه قبلیږي، نو ځکه اړین نه دی.

## مستقیم ډیبیټ

هغه تړون دی چې د یوه شخص یا اداري سره له بانکي حساب پرته د پیسو د ترلاسه کولو په موخه منعقد کېږي. تادیات په منظم ډول کېږي، خو کېدای شي د پیسو مقدار متفاوت وي. د مثال په ډول، مستقیم ډیبیټ کېدی شي د برق د بیلونو د تادیې لپاره په موخه ترتیب شي.

## Standing Order/جاري امر

یو منظمه تادیه چې ستاسو لخو رامنځ کېږي، ترځو د توکو او خدماتو د پېر لپاره تادیات وکړئ.
دا ډول تادیات د دو کسانو لکه د کو څښتن لپاره د کرایې په ورکړه کې مفید دي.

## Overdraft/د اضافه پیسو ایستل

کله چې تاسو په خپل بانکي حساب کې له شته پیسو څخه په زیاته اندازه پیسي مصرفوئ، نو تاسو به یو Overdraft داخلوئ چې په اصل کې له بانک څخه د پور اخیستني په مانا دی. مصرف شویې پیسي ډېری وخت مصارف او تکتانه هم لري. مخکې له دې چې خپل د پور اخیستني وړاندیز/ overdraft داخل کړئ، د مصارفو په اړه یې فکر وکړئ.

## / Credit Score د اعتبار امتیاز

هغه عدد چې د پور د بېرته ورکړې د احتمال/شونتیا ښوونه کوي لوړ امتیاز به تاسو ته دا اجازه درکوي ترڅو د اعتبار اړونده لا ډېرو محلصولاتو ته درخواست وکړئ (لکه یو کریډیټ کارټ) ته. . هغه محدوده به چې تاسو یې د دغه محصولاتو لپاره ترلاسه کوئ، لوړه وي.

## Mortgage/ د کروی پانه

mortgage هغې قرضې ته ویل کېږي چې تاسو یې له بانک څخه د کور یا ځمکې پېرلو په موخه اخلئ. دا قرضه یو ډول مصؤنه قرضه ده، پدې مانا چې که چېرې تاسو دغه قرضه نه شئ ورکولی بانک کولای شي ستاسو کور بېرته واخلي او خرڅ یې کړي. ډېری دا ډول قرضې د 25 کلونو لپاره اخیستل کېږي چې د قسط په ډول به میاشتنی فیس ورکول کېږي، خو کېدای شي د پور معیاد کم یا زیات کړی شي. لوړ امتیاز به تاسو ته دا موکه برابره کړي ترڅو په ټیټ فیس سره غوره د مورټېج قرضه ترلاسه کړئ.

## درغلي/فریب

هغه جرم ته ویل کېږي کله چې یو شخص هڅه کوي تر څو د فریب له لارې د هغه پیسي وباسي. هغه شخص چې د یاد جرم مرتکب ګڼل کېږي، د fraudster یا درغلګر په نامه یادېږي.

## د پیسو مینځل/سپینول

کله چې پیسي له کوم جرمي فعالیت څخه ترلاسه کېږي، له قانوني منابعو څخه تر پاس کېدو وروسته،د سپینو یا مینځل شویوپیسو په نامه یادېږي.
د مثال په ډول، هغه پیسې چې د مخدره توکو د قاچاق نه په لاس راغلیي وي، کېدی شي د پیزې د یوه رستورانت په پرانیسته کې ورنه استفاده وش. نو له همدې وجې، د پیزې رستورانت د پیسو د مینځلو یا سپینولو لپاره یو خند دی.



# څنګه کولای شو یو بانکي حساب پرانیسو؟

**1** د خپلې خوښې بانک یوې څانګې سره وګورئ. ترټولو آسانه لار داده چې د بانک یوې څانګې (یوه فعاله شمېره پیدا کړئ) ته زنګ ووهئ، همدارنګه کولای شې څانګې ته ورشئ او خبرې ورسره وکړئ، خو تاسو نه شئ کولای فورا یې ترلاسه کړئ ښایي د دې اړتیا وي چې بیا بانک ته مراجعه وکړئ. ځینې بانکونه تاسو ته اجازه درکوي ترڅو په آنلاین ډول د ملاقات زمینه برابره کړئ- وګورئ چې ستاسو بانک یاد خدمات لري که څنګه.

د ملاقاتو تنظیمول یوه آسانه لار ده، خو تاسو کولاش د خپل بانکي حساب د ترلاسه کونې لپاره په آنلاین ډول هم غوښنه وکړئ.

**اړین ټکي**

خپلې د اوسېدو سیمې ته ترټولو نیژدې بانک ته ترجبح ورکړئ، ترڅو هر وخت مو چې غوښتې وي په آسانه توګله مراجعه وکړئ.

**2** په دغه کتابچه کې د پېژندګلوئ او آدرس یا پتې اړونده اسنادو په اړه معلومات دي چې تاسو به بانک ته د مراجعې په صورت کې ورته اړتیا لرئ.

د یادو اسنادو د ترلاسه کولو په موخه خپل وخت مصرف کړئ ترڅو بانک د مراجعې په صورت کې یې ځان سره ولرئ.

**اړین ټکي**

په هماغه اندازه فورمې، د پېژندنې اړونده اسناد او آدرس ثبوتونه واخلئ.

**3** د خپلو اسنادو سره یو ځای د ملاقت لپاره بانک ته لاړ شئ، د خپل حالت په اړه معلومات ورکړئ او د یوه بانکي حساب د پرانیستې وړاندیز وکړئ.

**اړین ټکي**

مخکې له دې چې بانک ته مراجعه وکړئ، د ملاقات د تنظیمولو په موخه له یوه کس څخه مرسته وغواړئ. بانک کولای شي یو بانکي کارکوونکی پیدا کړي ترڅو تاسره مرسته وکړي. که چېرې تاسو باوري نه یاست، نو ځان سره یو ملګری یا د کورنۍ غړی بوزئ چې په انګلیسي خبرې وکړی شي. هغوی هم باید ځان سره خپل د هوئت اسناد وېسي.

**4** که چېرې تاسو د یوه بانکي حساب په پرانیسته کې بریالي یاست، د **بانکي حساب تر پرانیستې وروسته** اړونده برخې ته ورشئ

**که چېرې تاسو د خپل بانکي حساب په پرانیسته کې بریالي نه شواست، نو لاندې ټکي کېدی شي تاسو سره مرسته وکړي:**

- له بانک څخه د تلفون شمېره وغواړئ ترڅو د تاسو د آدرس د تثبیت یا د پېژندنې د فورمې د چمتو کېدو په صورت کې هغوی ته زنګ ووهئ.
- که چېرې تاسو په یوه بانک کې نه بریالي کېږئ چې د خپل حساب پرانیسته وکړئ، نو بل بانک کې کوښښ وکړئ. ټول بانکونه یو شان اسناد نه قبلوي.
- که چېرې تاسو ته د یوه جاري حساب په د پرانیستې په برخه کې ځواب درکول کېږئ، نو د عادي حساب د پرانیستې وړاندیز وکړئ.
- د نورو اشخاصو د پیدا کولو په موخه چې وکولای شي تاسو سره مرسته وکړي، نو د ،مرستندویه اړیکو، د برخې سره په تماس کې شئ

# عموما دوه ډوله بانکي حسابونه شتون لري



### جاري حساب

د بانکي حسابونو ترټولو معمولي ډول جاري حساب دی. دا ډول حساب د عمومي سړک د ټولو بانکونو لخوا ورکول کېږي. تاسو کولای شئ خپلې پیسې په حساب کې وساتئ. دا ډول حساب کولای شي تاسو سره د بیلونو د تادیې په برخه کې مرسته وکړي او د دغه حساب له لارې تاسو کولای شئ پیسې ترلاسه کړئ لکه معاش یا ګټه.

تاسو به یو ډیبیټ کارټ ترلاسه کړئ ترڅو په پلورنځیو کې د پیر او پلور په برخه کې ورنه ګټه پورته کړئ، د نغدو پیسو له ماشینونو څخه پیسې وباسئ او همدارنګه کولای شئ د چک په ورکولو سره خپلې پیسې وباسئ. همدارنګه تاسو کولای شئ په خپل حساب کې مستقیم ډیبیټونه او ثابت امانات رامنځ ته کړئ.

د ځینو جاري حسابونو سره د اضافه پیسو د اخیستنې انتخاب هم موجود وي.

### اساسي/عمومي بانکي حساب

دا یو ډول وړیا بانکي حساب دی چې لا هم د بانکي حساب خدمات وړاندې کوي ، خو پدې کې د اضافي پیسو ایستل نه دي شامل. همدارنګه، که چېرې تاسو یو مستقیم ډیبیټ رامنځ ته کوئ او ستاسو په حساب کې پیسې شتون نه لري، ښایي په تاسو باندې مصرف راشي.

د یوه عمومي یا اساسي بانکي حساب تر پرانیستې وروسته، تاسو لا هم کولای شئ په راتلونکې کې د یو معیاري جاري حساب پرانیسته وکړئ.

عمومي یا اساسي بانکي حسابونه د لاندینیو بانکونو لخوا وړاندې کېږي: Barclays, the Co-operative Bank, HSBC, Lloyds Banking Group, Clydesdale Bank and Yorkshire Bank, Nationwide, RBS, Santander and TSB.

# همدارنګه په ډیجیټلي ډول د بانکونو چانس هم شتون لري

### ډیجیټلي بانکونه

په بریتانیا کې، په ډیجیټلي ډول بانکولي د بانکونو لپاره یو انتخابي موضوع ده. ډیجیټلي بانکولي یوه مستقیمه بانکولي ده چې په آنلاین ډول خدمات وړاندې کوي. پداسې حال کې چې ډېری بانکونه په فزیکي ډول د لیدنې ځانګې لري، خو په ډیجیټلي بانکونو کې ټول خدمات په آنلاین ډول وړاندې کېږي.



یاد بانکونه جاري حسابونه پداسې ډول وړاندې کوي چې پیرېدونکی به خپل تلفون کې د اپلیکشن په ډونلوډولو سره درخواست کوي. په UK کې تاسو باید یو BRP او آدرس ولرئ ترڅو تاسو ته خپل ډیبیټ کارټ واستول شي.

په UK کې د مشهورو ډیجیټلي بانکونو نومونه په لاندې ډول دي: Monzo, Monese, Revolut and Starling Bank. دا لیست پدې مانا نه دی چې په بریتانیا کې ټول ډیجیټلي بانکونه همدغه دي، تاسو باید خپله لټون وکړئ چې کوم بانک تاسو لپاره غوره دی.

# اړین اسناد

بانکونه باید له درغلیو او د پیسو له مینځلو څخه د مخنیوي په موخه د احتمالي مشتریانو اړونده معلومات وڅېړي. له همدې امله، که غواړئ بانکي حساب پرانیزئ، نو باید خپل هویت تثبیت کړئ. تاسو اړتیا لرئ چې د خپلو ټولو اړونده اسنادو لپاره معتبر او روښانه تصویر ولرئ ترڅو تثبیت شي تاسو چېرې ژوند کوئ (د آدرس تثبیت).

هېڅ یو له یادو اسنادو څخه نه شي تضمین کېدی چې د بانک لخوا به ومنل شي نو له همدې امله خپل موجود اسناد ټول ځان سره وېسئ.

که چېرې تاسو د عمومي سړک د کوم بانک لخوا د بانکي حساب د پرانیستې په اړه منفي ځواب در کول کېږي، تاسو کولای شئ نورو بانکونو ته مراجعه وکړئ، دا ځکه چې ښایي بل بانک له تاسو څخه ورته اسناد و نه وغواړي او متفاوت واوسي.

په راتلونکي پاڼه کې هغه اسناد ترتیب شوي کوم چې به د بانک لخوا د هویت او آدرس د تثبیت په موخه ومنل شي.



## د هوئیت تثبی - په پراخه کچه منل شوي ترتیب کي




- فعلي پاسپورت
- د تابعت بای متریک شوي اجازه پانه (BRP)
- د کار او تقاعد وزارت سند چي دګټو اړونده حقوقو تائیدي کوي
- په UK کي د ډریورۍ بشپړ فعلي یا پخوانی لیسنس
- د UK د کورنیو چارو د وزرات سفر سند
- د انګلستان د کورنیو چارو وزارت د دفتر د ثبت کارت
- د انګلستان د کورنیو چارو وزارت د کډولۍ حالت د اوسېدو د حق سره
- د نورو دولتي/محلي ادارو سپاربښتنه

### یادښتونه:

د اوسېدنې په یوه بای متریک شوېي اجازه پاڼي تاسو کولای شئ د ډریورۍ مؤقت اسناد ترلاسه کړئ. د ډریورۍ د یوه مؤقتي لیسنس د ترلاسه کولو لپاره یوه اندازه فیس تعئین شوی. تاسو کولای شئ د یوه ډریورۍ د یوه مؤقت لیسنس لپاره د لاندې لینک له لارې غوښتنه وکړئ: **www.gov.uk/apply-first-provisional-driving-licence**

## د آدرس تثبیت - په پراخه کچه منل شوي ترتیب کي



- د شورۍ د مالیاتو بېل
- د اجارې تړون (د شورۍ په ګډون)
- د ښاري خدماتو بېل (برق، ګاز یا د اوبو بېل) چي د تېرو 3-4 میاشتو وي
- د اروپايي تولنې/EU/EEA د ډریورۍ فعلي یا سابقه سند
- د HMRC مالیاتي اعلامیه
- د کار او تقاعد وزارت سند چي له ګټو څخه د استفادې حق تائید کړي

### یادښتونه:

ښایي د پورتنیو مواردو ډېرې هغو ته په سملاسي ډول لاسرسی و نه شي. که څه هم، ځیني بانکونه ښایي د کډوالو لپاره طرحې ولري. دا بهتره ده چي د کډوالۍ په شورۍ یا محلي خیریه اداره کي د شته فعلي انتخابونو په اړه پوښتنه وکړئ.



دا شوني ده چي مخکې له دې چي نوي استوګنځي ته لاړ شئ، یو د اجارې تړون ترسره کړئ.

ځیني وخت له یوې معتبرې اداري څخه یو مکتوب کېدای شي د آدرس د تثبیت په حیث استفاده شي، د مثال په ډول، د یوه سازمان،مسکن اداري، د بې کوره شویو لپاره د مسکن یا لیلیې چمتو کوني ادارو لخوا مکتوب.

د ځینو بانکونو د پالیسیو له مخې کولای شئ د بشري مرستې د حساب نه په استفادې سره خپل آدرس تثبیت کړئ، پدې اړه له بانک څخه معلومات واخلئ.


Free Cash
withdrawals
VISA

# ستاسو د بانکي حساب تر پرانیستې وروسته

که چېرې تاسو په بریالی توګه یو بانکي حساب پرانیستی وي، نو مبارک مو شه**!**
تاسو اوس په بشپړ ډول د انګلستان د مالي خدماتو لپاره په شرائطو برابر یاست.

لاندې ځینې ټکي موجود دي چې تاسو کولای شئ د تل لپاره یې په پام کې ونیسئ.

## له بانکي ټکټاني پرته د قرض اخیستو غوښتنه وکړئ.

دا قرضه د مسکن، کرایې، تعلیم او کاري روزنې په برخه کې د کډولو لپاره چمتو شوې ده.

که غواړئ درخواست وکړئ **www.gov.uk/refugee-integration-loan/how-to-apply** ته ورشئ.

## تاسو به لاندېنیو موارډو ته اړتیا ولرئ:

- ستاسو د ملي بیمې نمبر
- ستاسو دBRP/کډوالی د وضعی سند/پاسپورت
- بانکي صورت حساب/لیک چې ستاسو د بانکي معلوماتو لرونکی وي

## خپل د اعتبار امتیاز جوړ کړئ.

له **مستقیم ډیبیټ** یا **ثابتو اماناتو** نه په استفادې سره د بیلونو/کرایه تادیات به تاسو سره مرسته وکړي چې تاسو څنګه په بلقوه ډول بنودلی شئ چې ډیبیټ بیا تادیه کړئ. دا به ستاسو **بانکي اعتبار ډېر کړي**. کله چې تاسو د لاندېنیو شیانو لپاره غوښتنه کوئ، نو ستاسو بانکي اعتبارت به په پام کې ونیول شي:

- قرضې
- کریډیټ کارتونه
- ګټیې
- د موټر او کور بیمه

که چېرې تاسو یو عمومي یا اساسي بانکي حساب ولرئ، ستاسو د بانکي اعتبار سمون بنایي ستاسو لپاره دا چانس ډېر کړي چې یو معیاري جاري حساب پرانیزئ.

## یو د سپما حساب پرانیزئ.

تاسو کولای شي د خپلې خوښې وړ بانک کې یو د سپما حساب پرانیزئ. دا حساب تاسو ته پدې موخه رامنځ کېږي ترڅو خپلې پیسې پکې وساتئ او ګټه ترې پورته کړئ. دا یو کوچنی مقدار ګټه ده چې بانک به یې تاسو ته ستاسو له پیسو څخه د استفادې په بدله کې تادیه کوي.

د مثال په ډول، که چېرې تاسو په خپل د سپما په حساب کې په 2% کلنۍ ګټه £100 اچوئ، نو تاسو به £2 د ګټې په حیث تادیه کېږي. له یوه کال وروسته به تاسو£102 لرئ.



# موروجې درغلی



## مالي درغلی او غولوونکي غیرقانوني پیغامون/Phishing and Smishing

Phishing (په ایمېل کې درغلئ) smishing (د پیغام په استولو کې درغلئ) د بانکي درغلیو یا غلو ترټولو مروج ډولونه دي. بانکي غله به تاسو ته ستاسو د بانک په نامه له تاسو غوښتنه وکړي ترڅو په لېنک باندې کلېک وکړئ او د خپلو بانکي معلوماتو تائیدي وکړئ.

ستاسو بانک به هېڅکله له تاسو څخه ستاسو پسورډ او پین و نه غواړي. که چېرې تاسو باوري نه یاست، نو خپل بانک ته ټلفون وکړئ او یا هم ورشئ ترڅو پوښتنه وکړئ چې آیا دوی تاسو سره په اړیکه کې شوي که څنګه.

## د پانګونې په نامه بانکي درغلی

بانکي درغلګر ښایي تاسو وهڅوي ترڅو په جعلي شتمنۍ لکه طلا، شرابو یا د ملکیت په برخه کې پانګونه وکړئ. دوی به هڅه وکړي ترڅو تاسو راضي کړي چې ګویا دوی رېښتیني پانګوال دي.

که چېرې تاسو کومه ناڅاپي تلفوني اړیکه ترلاسه کوئ چې تاسو ته په خوږو او جذبوونکو الفاظو د پانګونې وړاندیز کوي، او له تاسو څخه په بیړني ډول د پیسو د انتقال غوښتنه کوي، نو پوه شئ چې دا یوه بانکي غلا ده.

## د مخکې ادایني د کارت په برخه کې درغلي



د مخکې ادایني کارتونه کېدای شي په شاوخوا سیمه کې د نغدو پیسو له لېږد څخه د مخنیوي په موخه وکارول شي. تاسو کولای شئ له هغې څخه په هټیو او رستورانتونو کې استفاده وکړئ. کله چې ستاسو پیسې ختمېږي، تر هغې چې بیا مو کارت نه وي چارج کړی نه شئ کولای پېر وکړئ.

پداسې حال کې چې کېدای شي یاد کارتونه د ځینو هغو کسانو لپاره چې نوي بریتانیا ته راغلي او بانکي اعتبار و نه لري، یو غوره انتخاب ښکاره شي، خو د مخکې ادایني کارتونه کېدی شي تر نورو زیات د بانکي غلا د ګواښ مخ واوسي. له دغو کارتونو څخه کېدای شي د جعلي کارتونو په حیث ګټه پورته شي او یا هم مخکې له دې چې کارت وپېرئ، کېدی شي معلومات یې د درغلګرو لخوا غلا شوي وي.

که چېرې له تاسو څخه د مخکې ادایني کارت غلا کېږي، نو دا کارت د بانکي حساب سره وصل نه دی، هلته ستاسو لپاره کوم قانوني انتخاب شتون نه لري ترڅو د خپلو پیسو د ترلاسه کونې لپاره ادعا وکړئ او دجرم د کشفولو په برخه کې د ستونزو سره مخ کېږي.

# که چېرې تاسو د ورته پېښې سره مخ کیږئ څه باید وکړئ

## د اشتباه عمل له ترسره کولو څخه وساتئ لکه:

| سناریو/Scenario | څه باید وکړئ |
|---|---|
| که چیرې تاسو د تهدید احساس کوئ | پولیسو ته په **999** شمېره زنګ ووهئ |
| که چیرې تاسو یوه بانکي غله ته پیسې انتقال کړې وي | پولیسو ته زنګ ووهئ په **101** |
| که چیرې درغلګر ستاسو دروازې ته راځي، تاسو ته زنګ وهي یا پیغام درته استوي | رد یې کړئ، په یاد وساتئ څه پېښ شول او پولیسو ته په **999** شمېره زنګ ووهئ. |
| که چیرې فکر کوئ چې ستاسو بانکي معلومات یا پین غلا شوي | **د خپل بانک سره په اړیکه کې شئ** |
| که چیرې تاسو فکر کوئ چې پسورډ مو غلا شوی | خپل پسورډ په آنلاین ډول تغیر کړئ. |
| که چیرې تاسو ته له نامعلوم ځای څخه پیسې راځي | خپل بانک سره په تماس کې شئ.. د پیښې په اړه معلومات ورکړئ او د بیرته ورکړې غوښتنه وکړئ. |
| که چیرې تاسو ته له توقع زیاتې پیسې حساب ته راځي | خپل بانک سره په تماس کې شئ.. د پیښې په اړه معلومات ورکړئ او د بیرته ورکړې غوښتنه وکړئ. |
| که چیرې له پیښې وروسته په 8 اونیو کې د ننه ستاسو بانک نه لاس په کار کیږي | **د مالي خدماتو د څانګې سره په تماس کې شئ** |
| که چیرې په درغلیو کې پوستي موارد شاملیږي | د رویال میل/Royal Mail on سره په **0800 011 3466** شمېره اړیکه ونیسئ |

## د درغلیو په اړه راپور ورکړئ

- **د اتباعو مشوره -** 0808 223 1133 https://www.citizensadvice.org.uk/consumer/scams/reporting-a-scam/
- **د درغلیو پر وړاندې د اقدام شمېره -** 0300 123 2040
- **د مالي چارو د تطبیق اداره -** 0800 111 6768 consumer.queries@fca.org.uk
- **د لا ډېرو معلومات لپاره لاندې لېنک ته ورشئ:** https://www.citizensadvice.org.uk/consumer/scams/what-to-do-if-youve- been-scammed/

# مرستندویه شمېرې

## د کډوالو شورى

info@refugeecouncil.org.uk | 02073466700

## نورې خیریه ادارې

- د سکاټلنډ د کډوالو شورى – 0141 223 7979
- د ویلز د کډولو چارو شورى - https://wrc.wales/contact/
- د کډولو سره د مرستې اداره - 0808 8010 503
- CARAS (یوازې سوېل لوېدیځ لندن) - +44 (0)208 767 5378
- د اتباعو د مشورې ورکونې ځانګې - 03444 111 444
- د کډوالو په چارو کې د اقداماتو اداره - کوم چې مختلف خدماتو وړاندې کوي - https://www.refugee- action.org.uk/help-support-advice-services/

## د بانک شکایت اورېدنې شمېره/وېبسایټ

هر بانک به یوه د شکایاتو د اورېدنې شمېره، ایمېل آدرس،
آنلاین فورمه یا هم په حضورې ډول د شکایت اورېدنې فورمه ولرې

## د مالي شکایتونو د اورېدنې خدمات

www.financial-ombudsman.org.uk/contact-us/complain-online | 0800 023 4567

د شکایتونو د اورېدنې په برخه کې د نورو معلوماتو لپاره لاندې لېنک وګورئ:
**https://www.fca.org.uk/consumers/how- complain**

REFUGEE COUNCIL

SUPPORTING AND EMPOWERING REFUGEES